# مزاحمت تعریف،مفهوم،ابتداء او ارتقاء یو بحث

# A study of Resistance,Meaning,Definition and Evolution

Abdur Rahman ( Qamar Sehrai )[1]

Qsehrai@gmail.com

Issn 2304-1463

Dr Bushra Ikram [2]

drbushra@uop.edu.pk

## Abstract:

There are many types of resistance, i.e social resistance, political resistance, cultural resistance and personal resistance but in literature resistance refers to the way of expression in different forms of poetry to oppose and challenge dominant power whether they are social, cultural or political. Many literacy masterpieces have been produced due to the resistance of individual or groups. This paper throws light on the literal meaning and cocepts of different philosophers about resistance. More over it also depicts light on the historical evolution of resistance in different eras.

## Keywords:

Resistance, Greek, Renaissane, Resistance in Asia, Islamic concept of resistance,

مزاحمت د عربۍ ژبې تکې دے چې د مزاحم نه مشتق دے - د مزاحم معنا ده ایسارؤل،مخنیوے کؤل،مقاباله کؤل او ردِ عمل کؤل دي - مونږ چې ادبي حوالې سره کله د مزاحمت مفهوم واضحه کوو نو په عام طور د دې نه مراد

[1] PhD Scolar, Pashto Academy, University Of Peshawar

[2] Assistant Professor Pashto Academy University Of Peshawar

جابر،آمر،ظالم،تشدد،استحصال،جبر،بې انصافي،تخریب،مطلق العنانیت،خودسري،غلامي،لوټ مار، لوږه تنده او غربت،د حقوقو غصب،اقرباء پروري،معاشي او معاشرتي ناهواري،د خپلو اختیاراتو ناجائزه او بې ځایه استعمال او تجاوز،جګړې او شخړې،طبقاتي تضاد،مذهب پهٔ طور د ډهال،سیاست پهٔ طور د کاروبار،سامرجیت،د مروجه رسم او رواج خامیانې،آمریت،سرمایه داري،جاګیرداري،د وسائلو غیرمنصفانه وېش،توهم پرستي،مکروه نړیوال سیاست،مېرټ،جرنېل ازم او د بهرني استعمار خلاف اواز او عملي او نظریاتي قلمي جهاد کؤل وي- مزاحمت د هر غیر فطري عمل ردِ عمل وي چې کوم په انساني فطرت کښې لۀ اول نه موجود وي- د انسان نه علاوه په حېوان کښې هم د مزاحمت ماده وي- بویا په هر زنده سري کښې په فطري توګه مزاحمت موجود وي چې دا د هر زنده سره یو فطري صلاحیت وي-

## د قران مجید په رڼا کښې د مزاحمت (جدوجهد) اهمیت

الله تعالی چې مسلمانانو ته کوم احکامات ورکړي دي په هغوي کښې یو بنیادي عمل دا هم دے چې د الله دین غالب کؤلو د پاره د فکر او عمل مېدان ته ووځئ- خواه چې په کوم حالت کښې یئ په طبیعت بوج وي یا سپک والے محسوسوئ په طبیعت کښې نشاط وي یا دروند والے محسوسوئ- د الله په لاره کښې د الله دین غالب کؤلو دپاره مېدان عمل ته وتل د دین په بنیادي احکاماتو کښې یو حکم دے- دا احکامات هغه وخت ورکړے شوي دي چې کله د قیصر روم خلاف نبي کریم صلی الله علیهِ و سلم د جدوجهد تیاري شورو کړې وه په دې آیاتونو کښې د غزوه تبوک د پاره الله تعالی مسلمانانو ته د تیارۍ حکم کړے وۀ- نوبویا د ظلم او ستم د نظام خلاف د مزاحمتي عمل فېصله مخې ته راغله- هغه هم هر حالت کښې خوا انفرادي وه یا اجتماعي ،په خصوصي توګه هغه وخت چې کله په یوې معاشره کښې ظلم،ناانصافي،انسان د شمني

او د انسـاني حقوقو د ماتؤلو عمل موجود وي په داسـې وخت کښې په مسـلمانانو د فريضې په توګه دا فرمان جاري کړے شوے دے -

حضرت مولانا مفتي عبدالخالق آزاد رائے پوري د مزاحمت په حقله ليکي :

"جب بھی انسانی معاشرے پر ایسی حالت طاری ہوگی یعنی ظلم تو مسلمانوں کے لئے ایک راستہ ہے کہ وہ مزاحمتی فکر و عمل کر دیں اور حالات کے تقاضوں کے مطابق حکمت عملی بنائیں جس کا ہدف اس پورے نظام کو بدلنا ہو "[1]

د مزاحمت د لغوي معنې په حواله محمد بن احمد الازهر الهروه ليکي :

" مزاحمت دراصل عربي زبان کا لفظ ہے جس کا اصل "زحم" ہے چنانچہ تہذیب اللغتہ میں اس کي معنی بیان کئے گئے ہیں۔ قوم کے بعض افراد کا بعض افراد کے خلاف مزاحمت کرنا، جبکہ وہ آپس میں مدبھیڑ کا شکار ہو جائے "[2]

دغسې صاحب صحاح د دې وضاحت داسې کړے دے :

" الزحمتہ، الزحما، اور کیا جاتا ہے کہ میں نے مزاحمت کی یا خلاف قوم نے باہم مزاحمت کی جب وہ ایک دوسرے حملہ آور ہو "[3]

د ابوالحسن علي بن اسماعيل په خيال د مزاحمت مفهوم څۀ داسې دے :

" اسی طرح پانی جب سمندر یا دریا میں موج در موج تیزی سے چل رہا ہو تو اہل عرب کہتے ہیں کہ الامواج تزاحم، امواج باہم مزاحم ہیں "[4]

د ذکر شوي بحث خلاصه دا ده چې مزاحمت لغوي اعتبار سره د یو عمل ردِ عمل دے - خوا هغه ردِ عمل د یو انســـان د بل انســـان د فعل خلاف وي یا د یو قام د خپل مخالف ډلې نه د بچ کؤلو مقصد وي په هر صورت دې ته مزاحمت وئیلے شي -

اروابناد سلیم راز صیب د مزاحمت مفهوم داسې واضحه کوي :

" د مزاحمت ما خذ ،مراحم،دے د مزاحم معنا ده چې د چا په لاره کښې رکاوټ اچؤل،په مقابله کښې راتلهٔ،نه چې په هغهٔ حمله کؤل، بلکې د هغهٔ حمله منع کؤل او خپله دفاع کؤلو ته وائي چې کومه د یو جابر ،ظالم د ظالمانه نظام، جبر او اســتبداد ،اســتحصــآل او د اغیار قامونو د ظلم او بربریت منع کؤلو او د خپل وطن اولس د دې نه خبرؤلو دپاره اوکړے شي "[5]

د شاعر او لیکوال ګلفام صابر په خیال د مزاحمت تعریف داسې دے :

"مزاحمت د عربۍ ژبې لفظ دے د فیروز اللغات مطابق د دې لغوي معنا ،لفظي یا وضــعي معنا ،ایســارؤل،ســد باب کؤل،رکاوټ اچؤل،مانع کېدل او مخنیوے کؤل وغیره دي په اردو او پښتو ادب کښې اصطلاحاً د دې نه مراد د داسې ادب اخستے شي چې کوم د خــپــلــې زمــانــې د خــطــا روایــاتــو،ســـیــاســـي مــطــلــق العنانیت،ظلم،جبر،استحصــال او اســتبداد خلاف لیکلے شــي په دوېمو لفظونو کښــې داســې ادب چې کوم منفي معاشــرتي روایاتوخلاف او د مثبت اقدارو په حق کښې تخلیق شوے وي دې ته مزاحمتي ادب وئیلے شي"[6]

د مزاحمت د مفهوم په حقله بختیار انجم لیکي :

" مزاحمت په بنیادي توګه د چا د ارادې یا منصوبې په لاره کښې د خنډ عمل ته وئیلے شي په عام طور د چا د بدې ارادې یا نقصان رسوونکي طرز عمل د مخنیوي کوشش ته د مزاحمت نوم ورکولے شي - مزاحمت لفظي هم وي او عملي هم په ادب او شاعرۍ کښې د مزاحمت تصور هم دغه دے چې د یو داسې نظام یا شخصیت، طبقه یا نظام چې کوم معاشرې له نقصاني وي - کله چې یو شخصیت، طبقه یا نظام د معاشرې استحصال کوي نو د معاشرې د انتهائي حساس فرد په حېث شاعر یا ادیب دې استحصال له د ټولو نه اول او زیات محسوسوي او هغه د دغه استحصال خلاف د خپلې شاعرۍ په ذریعه اولس رائے هواروي او د دې استحصالي نظام خلاف مزاحمت هم کوي او اولس له د دې نظام خلاف د پاڅېدو شعور ورکؤلو سره سره حوصله هم ورکوي - دغسې شاعرۍ په حرفِ عام کښې مزاحمتي شاعري وئیلے شي"[7]

مختیار احمد شاهین د مزاحمت د مفهوم په بابله لیکي :

"مزاحمت یو دفاعي قوت دے چې هغه د هر بد کار لار نیسي او د بدۍ د ختمولو هڅه کوي په تخلیقي سطح مزاحمت هغه عمل دے چې کوم په خلقو کښې شعور او پوهې د حق خودارادیت ادراک او د خپلو حقوقو د ترلاسه کؤلو جرآت پېدا کوي - ددې نه علاوه د حقوقو پېژندګلو، لاربښودنه او د هغې لارې چارې متعین کوي او په خلقو کښې فکري وحدت، اتحاد او اتفاق، عمل او مشترکه مقاصد د حصول جذبه پېدا کوي - مزاحمت هغه ډک چک عمل دے چې کوم د جبر او ظلم لار نیسي- خلقو له د فطري

انتشــار، پســتیِ، جهالت، لاقانونیت، بې علمیِ، توهم پرســتیِ او غفلت نه بهر کړي او د رڼا په لور د ســفر ترغیب ورکوي- مزاحمت د حق گوییِ دویم نوم دے "[8]

د ډاکټر نصیب الله سیماب په خیال د مزاحمت مفهوم څۀ دا رنگه دے :

" د مزاحمت لفظ چې کله زمونږ مخې ته راځي نو زمونږ په ذهن کښې یو عکس سر وهي او په یو خاص فریم کښې ځان ظاهروي په پښتو کښې دا اصطلاح محض هغه ادب دپاره په کار راؤستے شي چې کوم کښې وطن پرستي او قوم دوستیِ تذکره شوې وي "[9]

## د مزاحمت ابتداء او ارتقاء

مزاحمت یو فطري عمل او دفاعي قوت وي یا د یو منفي عمل ردِ عمل وي- دغه مزاحمتي ردِ عمل په انســاني فطرت کښــې لۀ ازل نه پېدا شــوے دے او تر ابده به په انســاني فطرت کښــې موجود وي- ځکه د دې مزاحمتي ردِ عمل نه بغېر انســاني مزاج او کردار مکمل کېدے نۀ شي- دراصل مزاحمت د انساني فطرت او کردار یوه برخه ده چې کومه انســاني ژوند دپاره ناگزیر ده- انســان سره سره په حېوان کښــې هم مزاحمتي ماده موجوده وي دغه وجه ده چې کله یو حېوان ته د ځان خطره پېدا شــي نو هر حېوان په خپل خپل طور د ځان بچ کؤلو مزاحمت کوي یا خو ځان بچ کړي اوتښــتي یا پټ شــي یا حســبِ ضرورت حمله کوي-

د مزاحمت د ابتداء او ارتقاء په حقله محترم سلیم راز صېب لیکي :

"څنگه چې د ادب تاریخ ډېر پخوانے دے دغســې د مزاحمتي ادب روایت هم ډېر پخوانے او قدیم دے بلکې کۀ زۀ داســې ووایم چې د ادب تخلیق پخپله یو مزاحمتي عمل او د حالاتو د مزاحمت یو

جذباتي عکس او فکري اواز دے نو بې ځایه به نۀ وي - حق خو دا دے چې مزاحمتي مزاج او مزاحمتي رویه پخپله یو تخلیقي انداز او تخلیقي عمل دے او دغه تخلیقي انداز او تخلیقي عمل د ادبي تخلیق یوه مؤثره ذریعه او طریقه ده او پخپله دغه قسم ادب د مزاحمت یو اهم اسلحه او وسیله ده چې کوم د خپل عهد علمي شعور بېدارؤلو سره سره د اولس د اجتماعي جمالیاتي حس عکاسي،تهذیبي فکر نمائندګي او انساني جذبات او احساساتو ترجماني کوي او دغه د فکر حس،جذبه او احساس ادب زېږوي او د غه جمالیاتي،تهذیبي او انساني منظرنامه کښې ادب پېدا کېږي -"[10]

د مزاحمتي ادب د تخلیق په حقله ابرار احمد څۀ دا رنګ ګویا دے:

" ادب تخلیق کول بذات خود یو مزاحمتي عمل دے ځکه چې ادیب د خپل ګرد او پیش سره Conforam نۀ شي کؤلے او د دې کشمکش په بنیاد هغه ادب تخلیق کوي "[11]

تر څو پورې چې په پښتو ادب کښې د مزاحمت روایت دے نو د پښتو ادب ورومبۍ دستیاب به شعري اثر" پټه خزانه" نه د دې ابتداء کېږي چې د پښتو ورومبے معلوم منظوم تخلیق د امیر کروړ نظم یو مزاحمتي رنګ لرونکے نظم دے - دې پسې په پټه خزانه کښې د بابا هوتک نظم هم مکمل مزاحمتي نظم دے - دغسې د پټه خزانه درېم شاعر"ملک یار غرشین" نظم هم مزاحمتي بڼه لري - د پښتو د منظوم ورومبي دور چې "پټه خزانه باندې اډانه لري د دې نه پس د پښتو د منظوم ادب دویم دور شورو کېږي چې دغه دور په دوه مکتبونو " د بایزید انصاري مکتب چې په پیر روښان باندې نومېږي یعنې روښاني مکتب او دویم اخون درویزه مکتب دے - خصوصاً د روښاني مکتب د

شـاعرانو په شـاعرۍ کښـې مزاحمتي عناصـر موجود دي - اګر چې د روښـاني مکتب شاعرانو تصوف او د خپل پیر و مرشد د افکارو په خپلې شاعرۍ کښـې ابلاغ کړې ده خو د دې مکتب د شاعرانو په شاعرۍ کښې مزاحمتي موضوعات هم واضحه ښکاري -

د پښـتو د منظوم ادب دریم دور د خوشـحال خان خټک او د هغۀ د کورنۍ د شـاعرانو د مکتب،د رحمان بابا د مکتب ،د حمید بابا د مکتب او د علي خان بابا مکتب په مکتبونو نومېږي په خاص توګه د خوشـحال خان خټک او د هغه د کورنۍ شاعرانو په شاعرۍ کښې د نورو موضوعاتو سره سره مزاحمتي موضوع واضحه ده - دغسې د رحمان بابا په شـاعرۍ کښـې مزاحمتي مضـامین موجود دي - د حمید بابا او علي خان بابا په شـاعرۍ کښـې هم مزاحمتي رنګونه پرېمانه دي - ددې بحث مطلب دا دے چې د پښتو په منظوم ادب کښې لۀ ابتداء نه د مزاحمت روایت را روان دے -

ډاکټر اظهار الله اظهار د پښتو د نظم په حقله لیکي :

"مزاحمتي رویه د پښتو د نظم سکه مور ده دا دعویٰ فقط یو ادیبانه شوخي نۀ ده - بلکې د پښتو معلوم تاریخ ګواه دے چې ژبې او ادب سـره منسـلک ټولو اصـنافو د تقلید نه زیات د مزاحمت د خېټې نه زېږېدلي دي - هسـې د دنیا د هر تخلیقي صـنف شـاته یو لړزېدلے کېفیت په څۀ نۀ څۀ شکل کښې یو نه یو سطح باندې د حالاتو د جبر خلاف د مزاحمت ببرغ اوچتوي ولې بیـا هم د ادیبـانو یو خپـل ځانګړي نفسـیات وي خوا څومره چې د بدلېدونکو سـاعتونو او نوؤ ادبي تقاضـو د رعایت لحاظ سـاتلے وي ولې د خپل فطري امکانانو وسـیع دائره نۀ ماتوي او نۀ د پښـتنو اقدارو په مرۍ چاړه راکاږي - مقصـد دا دے چې کۀ د دې عمل نه د تېرېدلو والا خپله ارتقاء او سـفر په لارو راتلونکو پړاوونو نه تښـتي نۀ خو سـترګې

پرانســـتې ســـاتي چې چرته دا کاروان د مقصـــد په فرېب د منزلونو
لرې پاتې نۀ شي "[12]

د مزاحمت د ابتداء او ارتقاء په بابله د حفیظ الرحمان د انګرېزۍ یو اقتباس وړاندې کولے شي :

"History tells us that alesolute monarchs,autocratic rulers and military dictators and even authoritatrian regimes,have always alihorred literature,which did not sing their praires and wanted to concern itself with the suppressed disires and aspiration of the people.their contention was that since they knew that was list for the people or not els"[13]

## په یونان کښې مزاحمت

لکه څنګه چې په تېرو شوؤ مخونو کښې ذکر شوے دے چې مزاحمت په انساني فطرت کښې لۀ ازل نه موجود دے ددې دپاره غالب امکان دےچې د ډېر پخوا نه انسان خصوصاً شاعرانو او دانشورانو به په خپل خپل عصر کښې د ظالمانو ،جابرانو یرغلګرو او ظالمانه نظامونو خلاف عملي،فکري او قلمي مزاحمت کړے وي ولې مونږ څخه د سـقراط(۳۹۹ ق م) نه مخکښـــې زمانو څۀ تحریري مزاحمتي نمونه موجود نشـــته په پخوانۍ زمانه کښـې په تحریري توګه مونږ څخه سـقراط یو داسـې شـخصـیت او کردار دے چې چا د مزاحمت بنیاد ایښؤدے دے - هغوي ایتنهز(یونان) کښې مروج جابرانه او غېر منصـــفانه نظام او دیوتاګانو باندې عقیدې راؤړلو حکمرانانو خلاف د بغاوت بېرغ اوچت کړو او د دیوتاګانو د وجود نه ئې انکار وکړو - هغوي ته معلومه وه چې د کائنات اصـــل خالق او مالک څوک بل دے - هغوي مســـلســـل غؤر او فکر کوؤ او د حقیقت معلومولو کوشــش ئې کوؤ - ځکه نو هغوي په خپل عصــر او نظام کښـــې وګرځېدۀ او هغوي ته د مرګ سزا ورکړے شوه -

په دې حقله کورا میسن لیکي چې :

"فطرتاً سقراط نہایت اعلٰی اخلاقی اوصاف کا حامل، حق پرست اور منصف مزاج استاد تھا۔ اپنی اسی حق پرستانہ فطرت اور مسلسل غور و فکر کے باعث آخر عمر میں اس نے دیوتاؤں کے حقیقی وجود سے انکار کر دیا۔ جس کی پاداش میں جمہوریہ ایتھنز کی عدالت نے 399ق م میں اسے موت کی سزا سنائی اور سقراط نے حق کی خاطر زہر کا پیالہ پی لیا"[14]

سقراط د حق او صداقت حقیقي لذت نه اشنا شوے وۀ دغه وجه وه چې هغوي یو طاقت هم خاطر کښې نۀ راؤستۀ حالانکې هغوي ته معلومه وه چې د دیوتاګانو د وجود نه انکار او د حق او صداقت پرچار په څۀ انجام وي خو د هغوي قدمونه د صداقت په لارې ونۀ رپېدل - د سقراط د وعظ نه اکبر لغاري یو اقتباس رانقل کړے دے -

"اے عظیم ایتھنز کے باسیو تم لوگ دولت، مرتبے اور شان و شوکت کو بہت زیادہ اہمیت دیتے ہو مگر سچائی اور دانائی کو بہت کم۔ میں تم سب کو یہ بتانا چاہتا ہوں کہ بے شک انائیٹس کا کہنا مانو مجھے آزاد کرو یا نہیں مگر یاد رکھنا میں سچائی کے راستے سے کبھی بھی نہیں ہٹو گا۔ چاہے اس کے لئے مجھے بار بار مرنا کیوں نہ پڑے"[15]

## د یورپ نشاة ثانیه

د دنیا په تاریخ کښې پینځلسمه او شپاړسمه عیسوي صدۍ ډېرې اهمې ګڼلے شي په دې صدو کښې په مغرب کښې تهذیب او تمدن او علومو او فنونو نوے زېږون وکړو او مشرق ئې تیارو ته تېل وهلو -

شستري لیکي چې :

"17ویں،18ویں،19ویں صدیاں ایشیاء کے ازمنہ تاریک وعہد جاہلیت کی صدیاں ہیں۔ سیاسی قوت کی تنزلی کے ساتھ ایشیائی ممالک میں اخلاقی و معاشرتی انحطاط کا دور دورہ ہو گیا تھا۔ ہر طرف خانہ جنگی، احساس کمتری، انتشار و خلفشار، جہالت، کم سوادی، وہم پرستی اور اندھی تقلید کا تسلط تھا۔ علم وفضل کا مشعل مشرق سے مغرب کو جاچکی تھی"[16]

په چین، هندوستان او د مشرقي وسطی ملکونو کښې پنډتانو، پروهتانو او د فقها اقتدار راغلے وۀ - د دې خلقو محبوب مشـغله دا وه چې د قد ماګانو د کتابونو شرحې لیکۍ او د وېښتۀ نه څرمن ؤباسئ - اول به د دې کتابونو خلاصې ؤلیکلے شوې بیا به د دې کتابونو شرحې ؤلیکلے شوې او بیا به د دې شرحٔو خلاصې ؤلیکلے شوې او طالب علمانو ته به وتاکلے شوې په دا سې حالت کښې د فکر او نظر د ودې هډو سوال نۀ پېدا کېدۀ -

په مغربي ملکونو کښې هم د مذهبي ازادۍ یعنې د کلیسا روم د اجاره دارۍ نه مخکښې د راهبانو او مذهبي پېشواګانو د مذهبي قدغنونو په وجه انسان پابند وۀ خو د سائنس ایجاداتو ورو ورو د مذهبي قدغنونو او راهبانو نه انسان آزاد کړو او د فطرتي ازادۍ په حقیقي خوند ئې پوهه کړو اګر چې دې سره د سائنس او د کلیسا یوه شخړه اوشوه چې هغه د کلیسا په ماتې او د سائنس په فتح باندې سر ته ورسېده - د دې په نتیجه کښې سائنسدانان او کوپرنیکس، ګیلیلیو، کیلرکوپرنیکس، ویکارټ او فرانسس بیکن د جدید فلسفې او سائنس تاسیس وکړو - د دوي تحقیقونو او انکشافاتو سره علم هیئت، جغرافیه، طبیعات، منطق، مابعد الطبیعات او د طب قدیم او فرسوده نظریاتو کښې ترمیم ؤشۀ چې دې سره د کلیسائے روم د متکلمانه افکارو او نظریاتو جادو مات شۀ -

والتهیئر:

والتيئر فرانس کښې د يو متوسط خاندان سره تعلق لرۀ هغۀ ته د ما شومتوب نه د شاعر او اديب جوړېدو شوق وۀ خو د هغۀ د پلار خيال وۀ چې شاعر او اديب د معاشرې بې کاره او نکما خلق وي چې هغه په معاشــرې باندې بوج وي خو والتيئر د خپل پلار دغه خيال غلط ثابت کړو چې شــاعر او اديب د معاشــرې بې کاره خلق وي - هغه مختلفو عالمانو ســره پاتې شـــو هغۀ له د جاګيردارانه نظام خلاف د خپلو نظرياتو او ليکونو د پېرس نه د انګلســـتان په لور هجرت کوّل پرېوتل - دې دوران کښـــې هغوي دومره دولت ؤګټۀ چې واپس پيرس راســـتون شــۀ او خپلو والدېنو باندې ئې ثابت کړه چې شـــاعر او اديب د معاشــرې ډېر د کار خلق وي - هغه د خپل وخت په نوموړو ډرامه نګارانو او کالم نګارانو کښې شمېرلے شو - والتيئر د سرمايه دارانه او جاګيردارانه نظامونو خلاف وۀ - هغۀ ته د يو لوې عالم جوړېدو هيڅ شـوق نۀ وۀ خو په خپل نظم او نثر کښـې به د سـرمايه دارانه او جاګيردارانه نظامونو خلاف ئې مزاحمت کوۀ - دغه وجه وه چې هغه به يو ځاے کښې هم مستقل نۀ شو اوسېدلے - قاضي جاوېد د والتيئر په حقله ليکي :

" وہ عالم فاضل کا کردار ادا کرنے کا کوئی ارادہ نہ رکھتا تھا وہ تو اپنے ملک کے حالات، مذہبی جہالت، جبر، تعصب، بے انصافی اور غلامی کے خلاف عقل اور روشن خیالی کی جنگ لڑ رہا تھا"[17]

روسو

ژان ژاک روســو د فرانس يوې غريبې کورنۍ کښـــې زېږېدلے وۀ په ماشـــوموالي کښې ډېر کمزورے وۀ معاشي حالاتو سره ورمخ شوے وۀ - ځکه ئې خپل وطن پرېښودۀ په مختلفو ځايونو کښـــې ئې ملازمت اوکړو خو يو ځاے کښـــې ئې زړۀ نۀ لګېدۀ - دې دوران کښـې ډېرو عالمانو سره پاتې شو هغۀ له د پېرس نه جنيوا ته هجرت کوّل پرېوتل په آخر کښـې د ليک لوســت نه پس هغه لوې عالم او فلسـفي جوړ شـو - هغوي په خپلې

فلسفه کښې د انسان د آزادۍ او خودمختارۍ باندې زور راوستو د هغوی نزدې غلامي یو لعنت وۀ په دې حقله محمود حسېن د هغوی یو قول وړاندې کوي چې "انسان آزاد پیدا ہوا ہے مگر جدھر دیکھو پابہ زنجیر ہے۔

محمود حسېن لیکي چې :

"کوئی تعجب کی بات نہیں کہ روسو کی تصنیف ،معاہدہ عمرانی،فرانسیسی انقلاب کے علمبرداروں کے لئے آسمانی کتاب بنی اور انہوں نے حقوق انسانی کے تخیل سے فرانسیسی بادشاہت مطلقہ اور نظام جاگیرداری کا قلع قمع کرنے میں انمول مدد لی"[18]

ژان ژاک روسو د انسان ازادی صرف جاګیردارانه او سرمایه دارانه (Capitalism) کښې نه بلکې سائنس او ارټس هم د انسان د خودمختارۍ په لاره کښې قصوروار ګڼلو په دې حقله اکبر لغاري لیکي :

"روسو نے لکھا کہ سائنس وارٹ نسل انسانی کے لئے قطعی فائدہ مند ثابت نہیں ہوئے ہیں اس نے کہا کہ سائنس وارٹ نسل انسانی کے بڑے دشمن ہیں۔ جنہوں نے خودساختہ طلب (ڈیمانڈ) پیدا کرکے انسان کو غلام بنالیا ہے"[19]

## په ایشیاء کښې مزاحمت

په براعظم ایشیاء کښې مزاحمت د ګوتم بده نه ابتداء کېږي چې هغوی په شپږمې صدۍ قبل مسیح کښې کپل وستو (کټهمنډو) نه د خپل پلار د حکومت او د انسان د غمونو ،دردونو ،رنځونو ،ؤلوږې او د غربت نه د خلاصي د حل دپاره د ډېر غور او فکر او محنت او ریاضت نه پس یو نوے مذهب"بدهمت" ابتداء وکړه - ځکه چې هغوی ته د خپلو خواهشاتو د ترک کؤلو کښې او د غرور او تکبر نه په پاکې زندګۍ کښې د

انسان ارام او سکون ښکارېدۀ خو په صحيح معنو کښې په ایشیاء کښې مزاحمت ابتداء په چین کښې د کنفیو شس په شکل کښې شوې ده چې هغوي په شپږمې عيسوى صدى قبل مسیح کښې د جاګیردارانه او بادشاهت مخالفت کړے وۀ - هغۀ ډېر عالم او معقول انسان وۀ - د ژوند په هرې معامله او مسئله انسان ته د خپل عقل او فهم نه په کار اخستو زور ورکوؤ او د انســـانيت، محبت او همدردۍ درس به ئې ورکؤلو - علي عباس جلال پوري د کنفیو شس په حقله لیکي:

"کنفیوشس (کنگ۔ مو۔ تسے) ۵۵۱ ق م میں پیدا ہوئے۔ ایک مؤرخ کے بقول دنیا میں جتنے بڑے بڑے معلمین اخلاق گزرے ہیں ان میں صرف کنفیوشس ہی ایسا رہنما ہے جس نے پیغمبری کا دعوی کیا نہ ملہم ہونے کا۔ جسے نہ کبھی خدا کا جلوہ نظر آیا نہ اس نے خدا کی آواز سنی وہ صرف ایک معقول اور رحم دل انسان تھا اور محض اپنی روح کی تسکین کے لئے نیک خیالات اور نیک اعمال کا قائل تھا۔ اس کا عقیدہ تھا کہ ضبط نفس سب سے بڑی نیکی ہے اور قابل قدر انسان وہ ہے جو کبھی برہم نہ ہو اس کا فلسفہ معقولیت پسندی کا ہے"[20]

علي عباس جلال پوري د کنفیوشـــس د ســـوانح حیات نه یوه واقعه وړاندې کوي:

"ایک دن کنفیوشس اپنے چند شاگردوں کے ساتھ کوهستانی علاقے میں سفر کر رہا تھا۔ راستے میں اس نے ایک عورت دیکھی جو ایک قبر سے لپٹی انسو بہا رہی تھی۔ کنفیوشس نے اس کے غم و آندوہ کا سبب دریافت کیا تو معلوم ہوا کہ اس جگہ اس کے بیٹے کو ایک شیر نے جان سے مار دیا تھا۔ عورت نے سسکیاں لیتے ہوئے بتایا کہ اس سے قبل اُس کا خاوند اور باپ بھی اس شیر کی خونخواری کا شکار ہو چکے ہیں۔ کنفیوشس حیران ہو کر پوچھا تم نے ایسی خطرناک جگہ کو چھوڑ کیوں نہ دیا؟ عورت نے جواب دیا کیونکہ یہاں کسی ظالم کی حکومت

نہیں۔ کنفیوشس اپنے شاگردوں سے مخاطب ہو کر کہنے لگا۔ دیکھو بچو جابرانہ حکومت
شیروں سے بھی زیادہ خطرناک وخوفناک ہے"[21]

د کنفیوشس د مذهب د همه ګیر اشاعت په وجه د چین د اولس په زړونو کښې د جبر او تشدد مخالفت او د جمهوریت محبت ځاے ونیوؤ - د دویمې صدۍ قبل مسیح د یو سپاهي شاعر د نظم د اردو ترجمه وړاندې کولے شي -

میں جنگلی مرغابیوں کو پرواز کرتے دیکھ رہا ہوں
میرے دیکھتے وہ یو کے درخت پر بسیرا کرلیتی ہے
لیکن ہم بادشاہ کے چاکر چاول اور جئ بھی نہیں بو سکتے
جن پر ہمارے والدین گزر بسر کرسکیں
اور دور تک پھیلے ہوئے نیلے آسمان
اس صورت حال کا خاتمہ کب ہوگا
وہ کونسا درخت ہے جس کے پتے خزان کے ہاتھوں زرد نہیں ہوئے
وہ کونسا سپاہی ہے جسے اپنی محبوب بیوی سے جدا نہیں کردیاگیا
ہم سپاہیوں پر رحم کرو
کیا ہم بھی انسان نہیں ہیں"[22]

دغه رحم طلبۍ وروستو د بغاوت شکل اختیار کړو او اخر په چین کښې ئې د ملوکیت خاتمه وکړه -

توفو لیکي چې :

" محلوں کے اندر شراب اور گوشت گل سڑ رہی ہیں اور محلوں کے دروازوں پر بھوکے انسانوں کی ہڈیاں گل سڑ رہی ہیں موتی حیرت کا اظہار کرتا ہے ایک سور چرانے والا گرفتار کرلیا جاتا ہے لیکن جو لوگ دوسرے ملکوں پر حملہ کر کے ان پر زبردستی قبضہ کر لیتے ہیں انہیں فاتح کا نام دیا جاتا ہے "[23]

## په اسلامي تاريخ کښې مزاحمتي کردار

د کائنات په ټولو مذهبونو کښــې صــرف اســلام هغه مذهب دے چې دغه خالق کائنات الله تعالیٰ د بنيادمو دپاره په خصوصي توګه رالېږلے دے چې د حق، رښتيا او د انصـاف مذهب دے چې په کوم کښـې د خاتم النبين حضـرت محمد صـلی الله عليه وآله وســلم په ذريعه حق تعالی د قرآن مجيد په شــکل کښــې خپل کلام بني نوع انســان ته رسـؤلے دے چې هغه يو مکمل ضـابطه حيات دے خو مونږ ته دلته په اسـلام کښـې هم مزاحمتي کردار ښــکاري -ځکه چې د تنقيد اړخ چرته نه چرته راووځي او بيا د دې د اصلاح نۀ کېدو په صورت کښې دغه تنقيد مزاحمتي شکل واخلي -

## حضرت ابوذر غفاريؓ

حضــرت ابوذر غفاري نوموړے صــحابي وۀ هغه ډېر برګزيده او په زاهد خلقو کښې شمېرلے شو هغه د تقویٰ په اوچت مقام ولاړ وۀ - د هغۀ په داسې خلقو سره هر وخت يوه جهګړه روانه وه چې کوم به دولت مند وو تر دې چې درېم خليفه حضــرت عثمانؓ په عهد خلافت کښــې هغوي په مالي نظام تنقيد وکړو - د حضــرت عثمانؓ په حکم باندې هغه لۀ ښاره ووتۀ او "ربزه" نومې ځنګل کښې و سېدل شورو کړۀ - وړومبے حضرت ابوذر غفاريؓ د حضرت عثمانؓ په حکم د هلته نه دمشق ته منتقل شو هلته چې هغوي وکتل چې مسـلمانان په عام طور په دنيا طلبۍ پســې شــوي دي - دغه بدل شــوے صــورت حال هغوي ډېر شدت سره محسوس کړۀ او بيا ئې ډېرې سختې لهجه کښې تنقيد وکړو - خلق

د دوي د رويې نه ډېر تنګ شو آخر دا خبره حضرت عثمانؓ ته ورسېده ـ هغوي حضرت ابوذر غفاريؓ مدينې ته ؤغو ښتۀ خو دلته هم دغه صورت حال وۀ چې کوم دمشق کښې وۀ ـ دلته ئې چې هم خلق دنيادارۍ ته مائل وليدل نو ډېر بد دله شو او خلق هم د هغوي د سخت مزاجۍ او تنقيد نه بېزار شو ـ آخر حضرت عثمانؓ هغۀي ته د "ربزه" ځنګل ته د تلو حکم وکړو او هغوي هلته لاړل ـ

ډاکټر حنيف خليل د ابوذر غفاريؓ په حقله ليکي :

> "اسلام نے قدم قدم پر سرمایہ جمع کرنے کی مخالفت اور محنت کشوں کی محنت کی تعریف کی ہے۔ لیکن جب حضرت عثمان کے دور خلافت میں حضرت ابوذر غفاری کی تحریک نے سرمایہ دارانہ نظام کے خلاف سر اٹھا دیا تو بات آخر خلافت سے ملوکیت تک پہنچی اور اس طرح دین اسلام کی روح سے ناموزوں حکومتی نظام نے سرمایہ داری کو ترقی دی اور اس طریقے سے اسلامی کمیونٹی میں بھی معتبر مسلمانوں کی طرف سے اس نظام کی پیروی کی گئی اور اس کے اثرات ہماری پختون کمیونٹی کے معتبر مسلمانوں تک پہنچ گئی"[24]

## د کربلا واقعه

په اسلامي تاريخ کښې د مزاحمت دوېم مثال د کربلا واقعه ده ـ حضرت امام حسېنؓ چې د نبي کريم صلی الله عليه اليه و سلم نمسے او د حضرت علي کرام الله وجه زوے وۀ ـ د هغوي په موجودګۍ کښې د يزيد خليفه جوړېدل او د هغوي په لاس د حضرت امام حسېنؓ بيعت کېدل نامناسب وو چې دا نۀ امام حسېنؓ جائز ګڼل او نۀ مسلمانانو ـ ځکه چې هغه په حق باندې وۀ او د حق دپاره ئې مزاحمت وکړو او د شهادت جام ئې نوش کړو ـ

په دې حقله حضرت قاري محمد طيب ليکي :

"سیدنا حضرت امام حسن رض کی عزیمت و جرآت اور ہمت و شجاعت قلب کا سب سے بڑا ظہور اسی واقعہ کربلا سے ہوا ہے کہ جس چیز کو وہ ناحق سمجھتے تھے اس پر جان دے دینی گوارہ کی مگر باطل کے آگے سر جھکانہ گوارہ نہ کیا اور مزاحمت کی اور باوجود بے یاری و مددگاری کے یک و تنہا باطل کے مقابلے میں آگئے اور شہادت عظمی کے مقام پر جا پہنچے"[25]

د دې ټول بحث نه دا ثابته شـــوه چې مزاحمت د هر بد عمل ردِ عمل دے چې دا د انسان فطري صلاحيت دے او د دې صلاحيت په وجه ژوند کښې د هر بد عمل مخنيوے کېدے شي۔

# حوالې

1 آزاد ،مولانا مفتي عبدالخالق،ماهنامه عزم،ملتان،اداره عزم، ۲۰۱۶ء،ص ۸

2 الهروه،محمد بن احمد بن الازهر،تهذیب اللغة ،بیروت،دارالاحیا عالترات العربی(س ن) ص 319

3 - الصالح، تاج اللغة وصحاح العربیه (مرتب) ابونصر اسماعیل بن حماد الجوهری بیروت دارالعلم للملابین، 1941، ص5

4- ابوالحسن علی بن اسماعیل، المحکم والمحیط ان اعظم (س ن) ص234

5 - سلیم راز ،ورځپاڼه خپلواک،پېښور، ۲۰۱۵ء،ص۴

6 - صابر، ګلفام،درې میشتنۍ تورغر،بټګرام،مزاحمتي نمبر،اباسین پښتو اکیډمي هزاره، ۱۹۹۷ء،ص ۱۳

7 - انجم،بختیار محمد ،درې میاشتنۍ تورغر،بټګرام،مزاحمتي نمبر،اباسین پښتو اکیډمي هزاره، ۱۹۹۷ء،ص۲۰

8 - شاهین،مختیار محمد ، درې میاشتنۍ تورغر،بټګرام،مزاحمتي نمبر،اباسین پښتو اکیډمي هزاره، ۱۹۹۷ء،ص ۲۳

9 - سیماب،نصیب الله،ډاکټر،شپږمیاشتنۍ،تکتو ،پښتو څانګه بلوچستان یونیوسټي، ۲۰۱۱ء،ص ۲۸

10 - سلیم،راز،مزاحمتي ادب،اکادمي ادبیات،پاکستان، ۱۹۹۵ء،ص ۹

11 - ابرار احمد، مزاحمتي ادب، اکادمي ادبیات، پاکستان، ۱۹۹۵ء، ص۴۸

12 - اظهار، اظهار الله،ډاکټر،درې میاشتنۍ،جرس،کراچۍ(نظم نمبر) ۱۹۹۹ء،ص ۳۴

13 - Hapizur Rahman,Resistance,Literatur Pakistan,Academy of Letter, 2000, page 17

14 کورامیسن،سقراط،بک کارنر شوروم، ۲۰۱۲ء،۱۸

15 اکبر لغاري، فلسفے کی مختصر تاریخ، ؤصل اباد، مثالی پبلشرز، ۲۰۰۸ء، ص۴

16 - اسلامی تهذیب کا خاسه، جلد دوم، روح عصر (مرتب) علی عباس جلالپوری، لاهور، تخلیقات، ۶ بیگم روڈ، مزنگ، ۲۰۱۳ء، ص ۱۰۱

17 - هم دغه اثر،ص ۱۰۲

18 - ایضاً، ص ۱۰۳
19 - ایضاً، ص ۶۱
20 - ایضاً، ص ۶۴
21 - ایضاً، ص ۶۴
22 - ایضاً، ص ۶۵
23 - ایضاً، ص ۶۵
24 - حنیف خلیل، ډاکټر، میاشتنۍ ادبي ترون، اسلام اباد، اے وي تي خبر، ۲۰۰۸ء، ص ۸
25 - محمد طیب، مولانه، شهید کربلا اور یزید، اداره اسلامیت ۹۰ انارکلي لاهور، ۱۹۷۶ء، ص ۸۱